AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۸/۲۹

# له کوره تللي پرديس لالي ته

موږ  د يو ګلبوټي څانګې او ګلونه
هره څانګه کې څو رنګه او رنګونه
د دونيا ناخوالو لرې تل بې نياز وو
ها خوږې شيبې اوس بيا راپنځوومه

په تياره او په رڼا دې يادومه
هر سبا  ليمې ستا  ياد کې غړومه
پر هر لور دې د ژوندون بڼ شه خيرازه
لار کې پاتې هر يو منډ دې ښکلوومه

زما سترګې اوس په هغه لور غړيږي
په کې پټ دې د پښنو منډ تت ښکاريږي
لا د تن په خوشبويې دې ژوندۍ پايم
ګل پر پاڼو  عطرو بنګ دې بويومه

روح له تنه مې وتلو چې ته تللې
پر اسمان د زړه مې وريځې خوريدلې
له هسک ښکته زمکې پورته په هوا وم
غږ ښکالو دې  له شپيلۍ راټولوومه

خوږ  ټاټوبی مې ويجاړ دی بې لتا
سيلۍ سوزي چاپيرپال تنګ او بې ساه
د ديوانو تور لاسونه را اوږده دي
د ژغورنې ګودرونه سموومه

پر زر خيزه خاوره پروت راته ښامار دی
له هر لور مو ستڼولو ته روان دي
په چوپړ کې د پردو دې خپل هير کړي
را ستنيږه دا سفر نور لنډومه

پرکالۍ درانه ليمڅې لاندې ويده يوو
د خيالونو ستورو ستورو کې پراته يوو
پاڅولو په جټکه کې يو لټون ته
يون چټک لکه بريښنا را ښوروومه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ